# د زړه اصلاح

## ولې ضروري ده؟

18-August-2022



هفته وراه د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے
د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

18 اګست 2022ء د پاکستان په هفته وار اجتماع کښې کیدونکے بیان

# د زړه اصلاح ولې ضروري ده؟

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللہ
اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاك فضیلت

د اللّٰہ پاک خوږ حبیب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: کوم بنده چې په محبت او شوق سره 3 ځله په ورځ کښې او 3 ځله په شپه کښې په ما باندې درودِ پاک اولولي، په اللّٰہ پاک باندې حق دے چې د هغه د هغې ورځې او د هغې شپې ګناهونه معاف کړي.[1]

اے عاشقانِ رَسُول! که چرې مونږه لږه شان توجه اوکړو نو خومره په آسانه ګناهونه بخښلے کیدے شي، مثلاً د سحر لمُونځ د جَمعې سره اوکړئ، سر ښکته کړئ، سترګې پټې کړئ او د شین شین ګنبد تَصَوُّر [په ذهن



[1]...معجم کبیر، جلد:8، صفحه:69، حدیث:15316۔

کښېږ] راولئ او 3 ځله درودِ پاک اولولئ، دغه شان د شپې د اوده کېدو په وخت د قبلې طرف ته مخ کړئ او کښېنئ، سر ښکته کړئ، سترګې پټې کړئ او د خوږ خوږ ګنبدِ خضرا تَصَوُّر (په ذهن کښې) راولئ او 3 ځله دُرودِ پاک اولولئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د هغې ورځې او د هغې شپې ګناهونه به معاف شي، خيال ساتئ! کبيره (يعني لوئے) ګناهونه په رښتينې توبے سره معاف کيږي، دغه شان قضا لمونځونه، قضا روژې، د بندګانو مالي، جسماني حقونه که په ذِمه وي نو د هغې ادا کول هم لازمي دي.

وہ تو نہایت سَستا سودا، بیچ رہے ہیں جنت کا

ہم مُفلس کیا مول چکائیں، اپنا ہاتھ ہی خالی ہے [1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: اَلنِّيَّةُ الْحَسَنَةُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنَّة ښه نيت بنده جنت ته بوځي.[2]

اے عاشقانِ رَسُول! د هر نيك او جائز كار نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونو کولو عادت جوړ کړئ چې هغه نِيَّت بنده جنَّت ته داخلوي. د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِيَّت اوکړئ چې ❀ نظر به



[1] ...حدائقِ بخشش، صفحه:186۔

[2] ...مسند فِرْدَوس، جلد:4، صفحه:305، حديث:6895۔

www.dawateislami.net

ښکته ساتم او ښه په غور به بیان اورم. ❀ د علمِ دِین زده کولو د پاره به پوره بیان اورم ❀ چې څومره کیدے شو د عِلمِ دِین د تعظیم [یعني ادب] په نِیَّت به بااَدبه کښینم ❀ د خپلے اصلاح د پاره به پوره بیان اورم ❀ څه چې واورم ځپله به پرې د عمل کولو او نورو د رَسَولو کوشش کووم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د طالبِ عِلمِ دین نصیحت

علّامه ابنِ جوزي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: یو ماشوم په مدرسه کښې خپله تختۍ وینځله، چې د تختۍ نه سیاهي په اوبو لا نړله نو ماشوم یو پړے را واخستلو، هغه ئې په اوبو لوند کړو، بیا ئې په پړي باندې خاوره اومږله او د دې په ذریعه ئې سیاهي وینځله، نزدې یو کَس ولاړ وو او د ده تماشه ئې کوله، د تختۍ د وینځلو دا ځان له انداز چې هغه اولیدلو نو هغه کَس اووئیل: ځویه! تختۍ په پړي ولې مږې؟ ماشوم اووئیل: سیاهي پخه ده، هغه ترې بوځم. هغه کَس پوښتنه اوکړه: آیا په پړي سیاهي ځي؟ ماشوم ذهین وو، فوراً ئې اووئیل: آؤ جي! ځي، آیا تاسو نه دي لیدلي، چې په پړي پسې بوقه اوتړلے شي او کوهي ته ورښکته کولے شي، بیا راښکلے شي، د کوهي غاړې د کاڼړو وي، د دې باوجود د پړي راښکلو سره په هغې کښې کَندې جوړېږي (یعني چې پړے په کاڼړي کښې کنده ویستے شي نو د تختۍ نه سیاهي

څنګه نشي بوتلے). سړي اووئيل: څويه! په کانړي کښې خو کنده ډيره موده پس کيږي. ماشوم اووئيل: نه جي! د رسۍ راښکلو سره کنده کيږي، که چرې پرے رانه ښکلے شي، که ډير کلونه هم تير شي، د کوهي په غاړو کښې کنده نه کيږي. دې سره ماشوم نصيحت اوکړو او اوئې وئيل: اے ښه انسانه! ما تاسو ته اشاره درکړه، که چرې تاسو په دې کښې غور کړے وے نو ستاسو د زړه سياهي به هم ورانه شوے وے. سړي په حيرانتيا سره پوښتنه اوکړه: آيا زما په زړه باندې هم سياهي ده؟ ماشوم اووئيل: کاکا جانه! سياهي د کوم رنګ وي؟ اوئې وئيل: د تور (رنګ). ماشوم اووئيل: نو د ګناهونو نه زيات تور کوم يو څيز دے؟ دې اوريدو سره سړي چغه کړه او د پښيمانتيا نه په ژړا شو. ماشوم اووئيل: کاکا جانه! اوس تاسو ته د زړه د صفا کولو دوائي ميلاؤ شوې ده. سړي بيا په حيرانتيا سره پوښتنه اوکړه: هغه دوائي کومه يوه ده؟ ماشوم اووئيل: د پښيمانتيا اوښکې...!! دا ګناهونه وينځي او زړه صفا کوي او د دې دليل دا دے چې د الله پاک حبيب، د زړونو طبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: بے شکه اوښکې به د قيامت په ورځ د اور سمندر مړ کوي.[1]

دِل ہائے گُناہوں سے بیزار نہیں ہوتا مغلوب شہا! نفسِ بد کار نہیں ہوتا

323

[1] ...بستان الواعظين، صفحه:100بتغير۔

گو لاکھ کروں کوشش اِصلاح نہیں ہوتی پاکیزہ گُناہوں سے کردار نہیں ہوتا
یہ سانس کی مالا اب بس ٹوٹنے والی ہے دِل آہ! مگر اب بھی بیدار نہیں ہوتا
افسوس! ندامت بھی عِصیاں پہ نہیں ہوتی نیکی کی طرف مائِل عطّارؔ نہیں ہوتا[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## چې زړه ټيک دے نو هر څه ټيک دي

اے عاشقانِ رَسُول! زمونږه زړه د ټولو نه قيمتي تختئ ده، دا د ګناهونو نه پاک کول د دين غوښتنه ده، دا د اِصلاح راز دے، په دې انسان سمیرږي، په دې سره کارونه سمیرږي، د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي، مکي مدني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اَلَآ وَ اِنَّ فِی الْجَسَدِ مُضْغَةً:اِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الجَسَدُ كُلُّهُ. وَاِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الجَسَدُ كُلُّهُ. اَلَآ وَهِیَ القَلْبُ واورئ! بيشکه په بدن کښې د وينې يوه ټوټه ده، کله چې هغه ټيک شي، ټول بدن ټيک شي او کله چې هغه ټوټه خرابه شي نو ټول بدن خراب شي، واورئ! هغه ټوټه زړه دے.[2]

د دې حديثِ پاک په شرح کښې عُلمائے کرام فرمائي: د بنده ټول کارونه د زړه سره تړلي دي، که چرې زړه صفا وي، په هغې کښې د الله پاک



[1]...وسائل بخشش، صفحه:165163 ملتقطاً۔

[2]...بخاری، کتاب الایمان، باب فضل من استبرا، صفحه:8584، حدیث:52۔

www.dawateislami.net

محبت وي، د الله پاک د محبوبو بندګانو محبت وي، په زړه کښې د الله پاک او د الله پاک د نافرمانۍ ویره وي نو د بنده ټول کارونه صحیح کيږي، بنده د ګناهونو نه بچ کيږي بلکه په ګناه کښې د اخته کيدو د ويرې نه د شک څيزونو نه هم بچ کيږي او که زړه خراب شي، زړه د نفس په خواهشاتو پسې روان شي، په هغه کښې د الله پاک ویره پاتې نه شي نو د بنده ټول کارونه خرابيږي او بنده د نفس د خواهشاتو په دام کښې اونښلي او په ګناهونو کښې اخته شي، ځکه وئيلے شي: چې زړه د ټول بدن بادشاه دے او ټول اندامونه د دې لښکر دے، که چرې بادشاه نيک وي نو لښکر هم نيک وي او که چرې بادشاه خراب شي نو پوره لښکر خراب شي.[1]

دِل ہی ڈبوئے، دِل ہی ترائے   دِل سا دوست نہ دِل سا دُشمن

## د پاک زړه برکتونه

د صحابـئ رسول حضرت اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روایت دے چې د الله پاک خوږ، آخري رسول، رسولِ مقبول صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یو کَس ته اوفرمائيل: دَعْ مَا يَرِيْبُكَ اِلٰى مَا لَا يَرِيْبُكَ په کومې چې ستا زړه اُودرَزِيږي، هغه پريږده! تر دې پورې چې څه درزا پاتې نه شي. هغه کَس عرض اوکړو: يَا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! زه به د زړه درزا څنګه



[1] ...جامع العلوم والحکم، صفحه:8483بتغير۔

پېژنم؟ اوئې فرمائيل: کله چې ته څه کوې نو په خپل زړه باندې لاس کېږده او اوګوره! بيشکه زړه په حرامو درزيږي، د زړه درزا تيزه شي او په حلال کار زړه په سکون کښې وي.[1]

اے عاشقانِ رَسُول! الله پاک زمونږ په زړه کښې دا خاصيت ايښودے دے چې بد کار کوو نو د زړه درزا تيزه شي، کيدے شي چې په مونږه کښې ډيرو ته دا اندازه لګې چې کله بنده په وړومبي ځل غلط کار کوي نو په زړه کښې ويره محسوسيږي، مثلاً غل چې کله په وړومبي ځل غلا کوي يا شرابي چې کله په وړومبي ځل شراب څښي، د سود کار کوونکے چې کله په وړومبي ځل سود اخلي، ورکوي نو زړه ئې ويريږي، د زړه درزا ئې تيزيږي، که چرې هغه وخت انسان د زړه واوري، د ضمير نه پورته کيدونکے آواز اومني او د ګناه نه منع شي نو د زړه دا کيفيت باقي پاتې کيږي او که چرې بنده هغه وخت د زړه فِکر اونکړي بلکه غلط کار اوکړي نو په مزه مزه د دغې غلط کار عادت واخلي، دغه شان په زړه تور والے خور شي او د زړه کيفيت بدل شي. د دې نه پته لګي چې زمونږه زړه د ښه او بد تميز لري خو چې کله په ده د ګناهونو تور والے پريوځي، زړه بالکل د ګناهونو نه ناپاکه شي، بيا دا په ښه او بدو کښې تميز نشي کولے.



[1]...جامع العلوم والحکم ، صفحه:117۔

www.dawateislami.net

دِل کہ تیمار ہمارا کرتا آپ بِیمار ہے کیا ہونا ہے
تیرے بِیمار کو میرے عیسیٰ غش لگاتار ہے کیا ہونا ہے[1]

**وضاحت:** زړه به زمونږه تپوس ځنګه کولو، هغه خو پخپله بیمار دے، اے زما خبر اخستونکیه! زما د زړه خبر واخله چې په دې پرله پسې دورې راځي، ستا نه علاوه زما هيڅ څوک پوښتنې والا نشته.

## د نيکۍ او ګناه عجيبه پيژندګلو

يو صحابئ رسول دے: حضرت وابِصَه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ . ډير پرهيزګاره او د الله پاک نه ويريدونکے وو، اکثر به ئې د الله پاک د ويرې نه ژړل. هغوئي فرمائي: يو ځل ما سوچ اوکړو چې د رسولِ اکرم نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه د نيکۍ او ګناه په باره کښې پوښتنه اوکړم، نو هم داسې ما په زړه کښې دا اراده اوکړله او د رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دربار کښې حاضر شوم. سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ماته اوکتل او اوئې فرمائيل: اُدۡنُ يَا وَابِصَةُ! اے وابِصَه رانزدې شه! زه ورنزدې شوم، تر دې پورې چې زما زنګونان د سرورِ عالَم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د زنګونانو مبارکو سره اولګيدل. اوس د غيبو خبر ورکوونکے نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: وابِصَه! زه اووايم چې ته څه پوښتنې کولو د پاره راغلے ئې؟

323

[1]...حدائق بخشش، صفحه:167166 ملتقطاً۔

(سُبْحٰنَ اللّٰه!) دې ته: د غیبو عِلم وائي! یو عاشقِ رسول څه ښکلي وئیلي دي:

اے کہ ذاتِ پاکِ تو صُبْحِ دُہور چَشْمِ تو بِینَنْدَۂ مَا فِی الصُّدُوْر

**وضاحت:** یَا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ستاسو ذات مبارک د روښانه سحر په شان دے، ستاسو مبارکې سترګې د زړونو حالونه وینې.

خیر! حضرت وابِصَه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: ما عرض اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! تاسو (ېخپله) اوفرمائې! چې زه د څه پوښتنې د پاره راغلے یم؟ اوئې فرمائیل: وابِصَه! ته د نیکۍ او ګناه په باره کښې د پوښتنې د پاره راغلے ئې. دې فرمائیلو سره خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپلې درې ګوَتې مبارکې د یو بل سره یو ځائے کړې او زما په سینه ئې کیښودلې او اوئې فرمائیل: د خپل زړه نه پوښتنه کوه! نیکي هغه ده په کومې چې ستا زړه مطمئِن وي او ګناه هغه ده په کومې چې ستا زړه درزیږي او په زړه کښې تَرَدُّد [یعني چې اوئې کړم او که نه ئې کووم، داسې قِسمه حالت] پیدا شي.[1]

د دې حدیثِ پاک په شرح کښې علمائے کرام فرمائي: د اوچتې مرتبې اولیائے کرام د چا زړونه چې صفا وي، په زړه کښې ئې د الله پاک د معرفت نور پرقیږي، د نیکۍ او د ګناه دا معیار د هغوئي د پاره خاص دے.[2]



[1]...مسند ابی یعلیٰ، جلد:2، صفحه:105، حدیث:1584۔

[2]...لمعات التنقیح فی شرح مشکوٰۃ المصابیح، جلد:5، صفحه:505 خلاصةً۔

www.dawateislami.net

ولې چې زمونږ په شانتې عام خلق د چا زړونه چې د ګناهونو په ګندګئ ککړ دي، د هغوئي د پاره هم دغه حکم دے چې هغوئي دې د علمائے کرامو نه پوښتنه اوکړي، د عاشقانِ رسول مفتيانِ کرامو په خدمت کښې دې حاضِر شي، هغوئي چې ورته څه اوفرمائي: د قرآن و سُنَّت په رنړا کښې ورته کومه فيصله عطا کړي، په هغې دې عمل اوکړي. مشهور مُفَسِّرِ قرآن، حکيم الاُمَّت حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: حُضُورِ پُرنُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت وابِصَه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په سينه باندې لاس کيښودلو او د هغوئي زړه ته ئې فيض ورکړلو، د کوم سره چې د هغوئي نفس مُطمَئِن او زړه د وسوسو نه پاک او صفا شو، چې اوس دا زړه پاک و صفا وو، ځکه ئې اوفرمائيل: اے وابِصَه! د نن نه د ګناه او نيکئ پيژندګلو هم دا ده چې په کومې ستا زړه ډاډه وي هغه به نيکي وي او کومه چې ستا زړه قبوله نه کړي، هغه به ګناه وي. دا د حُضُورِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د لاس شريف اثر دے ګني زمونږ په شان خلقو ته دا حکم نه دے.[1]

دِل کرو ٹھنڈا مرا، وہ کفِ پا چاند سا سینے پہ رکھ دو ذرا تم پہ کروڑوں درود

**وضاحت:** اے زما خوږه آقا و مولا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د خپل سپوږمئ په

323

[1]...مرآة المناجيح، صفحه:258257 بتغير قليل۔

شان د ښېې تلے زما په سینه کیږدئ او زما زړه یخ کړئ په تاسو دې په ډیر ډیر درود و سلام وي.

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** اندازه اولګوئ! پاک زړه څومره لوئے نعمت دے، د اوچتې مرتبې اولیائے کرام د چا زړونه چې صفا وي، د هغوئي په زړونو د ګناهونو تور والے نه وي، د الله پاک د معرفت نور د هغوئي په زړونو کښې ځلیږي، د هغوئي زړونو ته د نیکئ او ګناه پیژندګلو طاقت ورکولے شي، الله دې نکړي که چرې اتفاقاً کله څه مُعامَله اوشي نو هم فوراً دغه پاک زړونه په درزا شي او دوئي د ګناهونو نه بچ شي، **یاد ساتئ!** اولیائے کرام د الله پاک په عطا سره د ګناهونو نه **محفوظ** وي.

## د ګوتې رګ به ئې په ټوپونو شو

شیخ ابو علـي دَقّاق رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي چې حضرت حارِث مُحاسبي رَحْمَةُ اللهِعَلَيْه چې به کله په لاعلمئ کښې د شک والا خوراک له لاس وروړلو نو د هغوئي د ګوتې رګ به ټوپونه وهل، داسې به هغوئي ته پته لګیدله چې دا خوراک (100 فیصده) حلال نه دے، په دې کښې څه شک دے. یو ځل هغوئي په یو ځائے تیریدلو، د هغوئي یو عقیدت مند هغوئي ته د خوراک دعوت ورکړه، هغوئي د هغه د زړه ساتلو د پاره د هغه کور ته تشریف یوړلو، هغوئي چې کله وړومبۍ نوړئ په خُله کړه، هغه ئې په خُله کښې اړوله را

اړوله، د تیرولو کوشش ئې کولو خو تیره ئې نکړے شوه، آخر هغوئي هغه نوړئ د خُلې نه راویستله. وروسته پته اولیده چې په هغه خوراک کښې شک وو.[1]

داسې ډیر اولیائے کرام دي، چاته به چې د حرام او شک والا خوراک عِلم کیدو.

سُبْحٰنَ اللّٰه! دا دي پاک زړه والا خلق...!! د زړه د پاک والي په ننبو کښې دي چې د بنده به په نیکو کښې زړه لګي، د ګناهونو نه به ئې نفرت کیږي، که چرې مونږه هم خپل زړه پاک کړو، ګناهونه پریږدو، پخه او رښتینې توبه اوکړو، نیکئ کوو، د نیکانو خلقو صحبت اختیار کړو، د قرآنِ پاک د ډیر زیات تلاوت او ذِکرُ الله په ذریعه د مرګ یادولو سره خپل زړه پاک و صفا کولو کوشش اوکړو نو د اولیائے کرامو په شان که کرامات مو نصیب نه شي نو د ګناهونو نه نفرت خو به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! میلاؤ شي، په نیکو کښې به زړه هم اولګي، په لمُونځونو کښې، په عبادتونو کښې به خوږ والے هم راشي، که چرې داسې الله پاک اوغوښتل نو د زړه د پاک والي په برکت به د ګناهونو او بدو نه بچ شو. الله پاک دې د اولیائے کرامو په برکت مونږ ته هم د زړه د پاک والي فِکر راعطا کړي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

323

[1] ...فیضانِ سُنت، پیٹ کا قفلِ مدینہ، صفحہ:828827۔

دِل کا اُجڑا چمن ہو پھر آباد　　کوئی ایسی ہَوا چلا یا رَبّ!
نفس و شیطان ہو گئے غالِب　　ان کے چُنگل سے تُو چھڑا یا رَبّ!
نیم جاں کر دیا گُناہوں نے　　مرضِ عصیاں سے دے شِفا یا رَبّ!
واسطہ میرے پیر و مرشِد کا　　مجھ کو تُو متقی بنا یا رَبّ! [1]

## زړه د انسان اَصلي طاقت دے

**یاد ساتئ!** اَصلـي ژوند دا دے چې د بنده زړه ژوندے وي، که چرې زړه ژوندے نه وي، د ګناهونو په تور والي کښې ډوب وي نو ژوند نه بلکه وبال جوړ شي.

زِندگی زِندہ دِلی کا نام ہے　　مردہ دِل کیا خاک جیا کرتے ہیں

په روایاتو کښې دي چې کله اللّٰه پاک په خپل دَستِ قُدرت سره د حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام د خاورو وجود مبارک جوړ کړو، په هغې کښې ئې لا رُوح نه وو اچولے، تر ډیرې مودې پورې دا وجود مبارک هم داسې وو، فرښتو داسې شکل چرته هم نه وو لیدلے، فرښتې به په حیرانتیا سره د خاورو د وجود خوا له تللې، هغه ته به ئې کتل او د هغه ښکلا ته به حیرانیدلې. اِبلیس (یعني شیطان) کوم چې به هغه وخت د فرښتو سره وو، دا هم یوه ورځ د حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام د خاورو وجود کتلو د پاره راغے او



[1]...وسائل بخشش، صفحه:8179 ملتقطاً۔

د هغې نه ګیر چاپیره را تاؤ شو او اوئې وئیل: اے فرښتو! (دا دے هغه ځوک چې الله پاک په زمکه خپل خلیفه جوړ کړے دے)، تاسو ده ته حیرانې ئې؟ دا خو د دننه نه یو خالي وجود دے، په دې کښې ځائے په ځائے سورې دي، دا خالي وجود به هیڅ اونکړے شي، بیا ئې د (نور کتلو نه پس) اووئیل: آؤ! د ده د سینې ګس طرف ته یوه بنده کوټڼۍ ده، دا پته نشته چې په دې کښې څه دي؟ کیدے شي چې دا د هغه لطیفهٔ رَبَّاني ځائے وي د کومې په وجه چې دا د خلافت حقدار شوے دے.[1]

## د دُنیا ترقي تر څو پورې دوام لري؟

اے عاشقانِ رَسُول! دا واقعي حقیقت دے چې زمونږ ټول طاقت زمونږ زړه دے، که د انسان سره مال وي او که نه، ښه جامې، قیمتي ګاډے، بینک بیلنس، بنګله، هیڅ هم نه وي، زړه صفا، په زړه کښې د ایمان نور وي، د عبادت نور موجود وي نو هغه ګس کامیاب دے او که چرې د انسان سره هر څه وي، د دُنیا هر نعمت ورسره وي، د دُنیا په لحاظ که هغه هر څومره ترقي یافته وي، که چرې د هغه زړه تور دے نو د هغه کامیابي خو غټه خبره ده بعضې وخت د انسان وئیلو حق دار هم نه پاتې کیږي. **اوګورئ!** فِرعَون د دُنیا په لحاظ څومره ترقي یافته او کامیاب وو، د هغه سره



[1]...تفسیر نعیمی، پارہ:1، سورۂ البقرۃ، تحت الآیۃ:30، جلد:1، صفحہ:267 بتغیر قلیل۔

www.dawateislami.net

مال او دولت هم وو، تاج او تخت هم وو، حکومت هم وو، په زرګونو لښکر هم ورسره وو، هر څه ورسره وو خو د هغه زړه پاک نه وو، د هغه په زړه کښې د ايمان، د الله پاک د معرفت نور نه وو، د هغه زړه د کفر په تيرو کښې ډوب وو نو **اوګورئ**! نتيجه څه رااووتله...!! فرعون د خپل لښکر سره په درياب کښې غرق کړے شو، د هغه کفر، د هغه تور زړه، د هغه په زړه راخور شوے غرور او تکبر هغه ډوب کړو او دا تر قيامته پورې د عبرت نښه جوړه کړے شوه.

بل خوا د مسلمانانو د دويم خليفه حضرت عمر فاروق اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ خلافت دے، هغوئي کم و زيات د 22 لاکھ مربع ميل يواځې خليفه وو، د دومره لوئے سلطنت خليفه کيدل څومره لويه کاميابي ده، د دې سره سره د هغوئي زړه هم صفا وو، په زړه کښې د ايمان نور هم موجود وو، د هغوئي په زړه کښې تکبر نه وو، عاجزي وه، جهالت نه، عِلم وو، کفر نه، ايمان وو، ناشکري نه بلکه د عبادتونو نور وو، اوس دلته **اوګورئ**! نتيجه څه شوه...!! الله پاک د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ کاميابو ته دوام ورکړو، خپل خو خپل دي کافِران هم تر نن وخته پورې د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ذِکرِ خير کوي، د هغوئي د سيرت نه، د هغوئي د اندازِ خلافت نه سبق اخلي.

معلومه شوه چې د دُنيا ترقي هم په حقيقت کښې هغه وخت ترقي

جوړيدے شي، چې کله زړه پاک وي، زړه صفا وي، په زړه کښې نور وي، که چرې زړه ګنده وي، په زړه باندې د ګناهونو خيرے وي نو د دُنيا ترقي اګرچه ميلاويدے شي خو دې ته دوام (يعني هميش والے) نه ميلاويږي، د ګنده زړه والؤ ترقي د يو څو ورځو وي، بيا ئې زوال شروع شي.

د مکې مکرمې کافِران ښه عِزَّت داره وو، د هغوئي سره مال وو، دولت وو، خلقو به ورته په درنه سترګه کتل، طاقت هم ورسره وو، ظاهري حُسن هم ټولو ته ميلاؤ شوے وو خو دا کافِران وو، د زړه نه ړانده وو، الله پاک اوفرمائيل:

لَهُمْ قُلُوْبٌ لَّا یَفْقَهُوْنَ بِهَا٘ [مفهوم] ترجمۂ کَنز الایمان: هغوئي زړونه لري په کومو کښې چې پوهه نشته. (پارہ:9،سورۂ اعراف:179)

الله پاک د مړو زړونو والؤ په باره کښې نور فرمائي:

وَ لَهُمْ اَعْیُنٌ لَّا یُبْصِرُوْنَ بِهَا٘ وَ لَهُمْ اٰذَانٌ لَّا یَسْمَعُوْنَ بِهَاؕ اُولٰٓىٕكَ كَالْاَنْعَامِ بَلْ هُمْ اَضَلُّؕ اُولٰٓىٕكَ هُمُ الْغٰفِلُوْنَ ﴿۱۷۹﴾ (پارہ:9،سورۂ اعراف:179) [مفهوم] ترجمۂ کَنز الایمان: هغوئي د ځناورو په شان دي بلکه د هغوئي نه هم زيات ګمراه، هغوئي په غفلت کښې پراته دي.

اللهُ اکبر! معلومه شوه چې د چا زړه دومره تور شي چې په هغه کښې د ايمان نور هم پاتې نه شي، د کفر نه ډک شي، داسې تور زړه والا د انسان وئيلو هم حق دار نه دے بلکه د ځناورو نه هم بدتَره دے.

## د قومونو د زوړ مرض علاج

يو شاعر وئيلي دي:

دِلِ مردہ دِل نہیں، اسے زِندہ کر دوبارہ — یہی اُمّتوں کے مرضِ کُہن کا چارہ

وضاحت: کله چې زړه مړ شي، په زړونو د ګناهونو زنګ اولګي، د کُفر تيرې پرې خورې شي نو قومونه تباه او برباد شي، ځکه قومونه د تباهئ نه د بچ کولو دا طريقه ده چې د هغوئي د زړونو اصلاح اوکړے شي، د تورو زړونو نه زنګ لرې کړے شي او صفا ستهرا پرقيدونکي جوړ کړے شي.

## د مړو زړونو والوؤ په شان مه کيږئ...!!

الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

وَ لَا يَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْاَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوْبُهُمْ ؕ [مفہوم] ترجمۂ کَنزالایمان: او د هغوئي په شان مه کيږئ کومو ته چې مخکښې کتاب ورکړے شو بيا په هغوئي باندې موده اوګړده شوه نو د هغوئي زړونه سخت شول. (پارہ:27،سورۂ حدید:16)

په دې آيتِ کريمه کښې الله پاک د مخکښينو قومونو ذِکر فرمائيلے دے چې هغه خلق چا ته چې مخکښې کتاب ورکړے شوے وو، هغوئي په اوګږدو اُميدونو کښې پريوتل، د کوم په سبب چې د هغوئي زړونه سخت شول، بس اے مسلمانانو! د مکي مدني تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رښتيني

غلامانو! تاسو هيڅ کله هم د هغه اَهلِ کتاب په شان مه کيږئ! بلکه د اوګرېدو اُميدونو نه هم بچ کيږئ! او د خپل زړه هم پوره حفاظت کوئ...!!

## د ټولو نه غټه سزا

د تِرمذي شريف حديثِ پاک دے، د الله پاک حبيب، د زړونو طبيب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اِنَّ اَبۡعَدَ النَّاسِ عَنِ اللّٰهِ الۡقَلۡبُ الۡقَاسِی يعني سخت زړه والا د ټولو نه زيات د الله پاک نه لرې دے.[1] حضرت مالِک بن دِينار رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: بنده ګانو ته چې کومې سزاګانې ورکړے کيږي، په هغې کښې د ټولو نه غټه سزا دا ده چې د بنده زړه سخت کړے شي.[2]

قَلب سختی میں حد سے بڑھا ہے — بندہ طالِب ترے خوف کا ہے
اِلتجائے غمِ مصطفےٰ ہے — یا خدا تجھ سے میری دُعا ہے
حُبِّ دُنیا میں دل پھنس گیا ہے — نفسِ بدکار حاوِی ہوا ہے
ہائے شیطاں بھی پیچھے پڑا ہے — یا خدا تجھ سے میری دُعا ہے[3]

## الله پاک زړه ته ګوري

په يو حديث شريف کښې دي: اِنَّ اللّٰهَ لَا يَنۡظُرُ اِلٰی اَجۡسَادِكُمۡ، وَلَا اِلٰی صُوَرِكُمۡ، وَلٰكِنۡ يَنۡظُرُ اِلٰی قُلُوۡبِكُمۡ يعني بيشکه الله پاک ستاسو وجودونو او شکلونو ته



[1]...ترمذی، کتاب الزہد، صفحہ:573، حدیث:2411۔
[2]...ذم قسوة القلوب، صفحہ:260۔
[3]...وسائل بخشش، صفحہ:134 ملتقطاً۔

نه ګوري بلکه الله پاک خو ستاسو زړه ته ګوري.[1]

امامِ غزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: د دې حديثِ پاک نه معلومه شوه چې زړه د رَبُّ الۡعَالَمِيۡن د نظر ځائے وي، حيرانتيا ده په هغه ګس څوک چې د ظاهر سمولو اهتمام کوي، خپل ظاهر وينځي، د خِيري او ګند نه ئې پاک کوي چې خلق د هغه ظاهري عيب اونه ويني خو د زړه د صفائې اهتمام نه کوي کوم چې د رَبُّ الۡعَالَمِيۡن د نظر مقام دے...!![2]

## د الله پاک د قُرب حقدار څوک دے؟

اَللّٰهُ اکبر! اے عاشقانِ رَسُول! د غور مقام دے! مونږه چې د خوب نه بيدار نه شو او مخ اونه وينځو، د کور نه نه اوځو، که جامې خِيرني وي نو د خلقو مخې ته د تلو نه ډډه کوو، نن سبا زمونږ د معاشرې ډير ځلمي په زرګونو روپۍ صرف د ويښتو په سټائل جوړولو لګوي او په مخ پته نه لګي چې څه څه لګوي، په دې فيشنونو روپۍ هم لګي، وخت هم لګي، خو خلق دا هر څه کوي، ولې؟ ځکه چې **زه ښکلے ښکاره شم او زما د ليدلو سره خلق زما تعريف اوکړي.**

خو افسوس! زړه خيرن دے، په زړه باندې د ګناهونو تور والے خور شوے دے، په زړه کښې غلط خيالونه دي، بدګمانۍ دي، تَڪَبُّر، غرور



[1]...مسلم، كتاب البر والصلة، باب تحريم ظلم المسلم، صفحه:995، حديث:2564۔

[2]...منهاج العابدين، صفحه:149 بتغير۔

www.dawateislami.net

دے، په زړه کښې د حَسَد اور بلیږي، زمونږ سره د دې لږ شان فِکر هم نه وي حالانکه زړه د رَبِّ کریم د نظر ځائے دے. سُلطانُ العارفین، شیخ سلطان باهُو رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه څه ښکلي فرمائیلي دي: که چرې په لامبلو وینځلو رَبِّ کریم میلاویدلے نو مهیانو (کبانو) به د ټولو نه زیات د رَبِّ کریم نزدې والے موندلے وے، که چرې رَبِّ کریم د ښه وینښتو جوړولو په ذریعه میلاویدلے نو د ګډو بیزو وینښته زیات وي، هغوئي به رَبِّ کریم ته زیاتې نزدې وے خو حقیقت دا دے چې رَبِّ کریم هغوئي ته میلاویږي، د چا نِیَّت چې رښتینې او زړه پاک وي. شیخُ الاِسلام حضرت بابا فرید رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: د الله پاک او د بنده ترمینځه پرده (یعني رکاوټ) صِرف د زړه ګندګي ده، که چرې دا حِجاب لرې شي (یعني زړه پاک شي) نو بنده ته د الله پاک نزدې والے نصیب کیږي.[1]

پاک ہو وَیں تے پاک مِلے، بِنْ پاکوں پاک نہیں مِلدا
سارے جِسْم دے دَھوَنْ نالوں توں دَھولے ٹکڑا دِل دا

**وضاحت:** الله پاک دے، صرف پاکو خلقو ته خپل نزدې والے عطا کوي، د ظاهري پاك کوالي په نسبت د زړه پاکئ ته زیاته توجه ورکوئ! چې دغه شان تاسو ته د الله پاک نزدې والے حاصِل شي.



[1]...ہشت بهشت، اسرا رالاولیاء، صفحه:30 بتغیر قلیل۔

## زړه د ټولو نه قیمتي خزانه ده

حُجّةُالِاسْلَام، حضرت سیِّدُنا امام محمد بن محمد بن محمد غزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي: زړه د ټولو نه قیمتي خزانه ده، د ټولو نه قیمتي جواهرات په زړه کښې وي مثلاً د الله پاک معرفت کوم چې د دواړو جهانونو د سعادت ذریعه ده، دا په زړه کښې وي ❀ بصیرت (مثلاً حکمت او دانائي) د کومې په ذریعه چې انسان ته عزّت او بزرګي میلاویږي، دا هم په زړه کښې وي ❀ اخلاص د کوم په ذریعه چې عبادتونه قبلیږي، دا هم په زړه کښې وي ❀ ټول ښه اخلاق د کومو په وجه چې انسان ته فضیلت میلاویږي، دا هم په زړه کښې وي ❀ هر قِسمه عِلم و حکمت د کوم په ذریعه چې انسان ترقي کوي، په دنیا او آخرت کښې اوچت مقام حاصلوي، دا هم په زړه کښې وي. معلومه شوه چې **زړه د ټولو نه قیمتي خزانه ده**، ځکه ضروري ده چې د دې پوره حفاظت اوکړے شي، دا د ګناهونو د زنګ او د نفس و شیطان په شان د غلو او ډاکوانو نه بچ کړے شي چې دغه شان زمونږه دومره قیمتي خزانه محفوظه شي.[1]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! زړه اَصلي سرمایه ده، دا اصلي ژوند دے، زړه د الله پاک د نظر ځائے دے، د زړه پاك والے د کامیابۍ ذریعه ده،



[1] ...منهاج العابدین مترجم، صفحه:145۔

www.dawateislami.net

د دې په وجه د الله پاک معرفت نصيب کيږي، مونږ له پکار دي چې د زړه صفا سُتهرا ساتلو ته پوره تَوَجُّه اوکړو، زړه د ګناهونو د خيري نه بچ کړو، د باطني ګناهونو نه زړه پاک کړو، د بُغض او کينې، بدګمانئ، د دُنيا د محبت، د مال د محبت، د غُرور، تَکَبُّر، حَسَد وغيره ګندګو نه ئې **محفوظ** کړو. الله پاک دې مونږ ته د زړه پاکي نصيب کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د زړه 4 بيمارئ او د هغې علاج

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د زړه بيمارئ بيشميره دي او د هغې علاجونه هم ډير زيات دي، امام غزالي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په **منهاجُ العابدين** کښې د دې خلاصه کړې ده، هغوئي فرمائي: د زړه د سختئ 4 بنيادي وجې دي، که چرې انسان د دې نه بچ شي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د هغه زړه به صفا شي.

## (1): د زړه د سختئ وړومبے سبب: اوګږد اُمِّيد

د زړه د سختئ وړومبے سبب دے: اوږد اُمِّيد، يعني تر ډيرې مودې پورې د ژوندي پاتې کيدو يقين. دا د زړه د سختئ بنيادي سبب دے، الله پاک په قرآن کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْاَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوْبُهُمْ (پاره:27،سورۂ حديد:16) | [مفهوم]ترجمۂ کَنْزُالايمان: بيا په هغوئي باندې موده اوګږده شوه نو د هغوئي زړونه سخت شول. |

اوګږد اُميد د نيکو په لاره کښې رکاوټ او د هرې بدۍ جرړه ده، دا داسې لاعلاجه بيماري ده کومه چې د نورو ډېرو بيمارو وجه جوړيږي ❀ د اوګږد اُميد په وجه د اړولو را اړولو عادت جوړيږي ❀ په نيکو کارونو کښې سستي راځي ❀ په زړه باندې د غفلت پردې خوريږي ❀ د دُنيا محبت زياتيږي ❀ حِرص زياتيږي او انسان په دُنيا کښې د مشغوليدلو سره آخرت هير کړي، د کومې په وجه چې د هغه زړه سختيږي او د ګناهونو خيرے نيسي.

ځکه که څوک د زړه اصلاح غواړي، نو هغه له پکار دي چې خپل اُميدونه کم کړي او هر وخت دې مرګ ياد ساتي.

## په هر قدم د مرګ تَصَوُّر

يوه ورځ سرورِ عالَم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت اُسَامه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د يوې مياشتې په قرض سودا اخستو اوليدلو نو اوئې فرمائيل: آيا ته په اُسامه باندې حيرانه نه ئې چې د يوې مياشتې د پاره [سودا] اخلې، په الله پاک مې دې قسم وي! چې کله زه په زمکه قدم کږدم نو ګمان کووم چې د قدم اوچتولو نه به مخکښې مرګ راشي، چې کله هم نوړۍ په خُله کووم نو ګمان کووم چې د دې د تيرولو نه مخکښې به مرګ راشي.[1]

کچھ نیکیاں کمالے جلد آخرت بنالے کوئی نہیں بھروسہ اے بھائی زندگی کا



[1]... شعب الايمان، جلد:7، صفحه:355، حديث:10564۔

www.dawateislami.net

## دنيا د دريو ساه ګانو ده

په دې دُنيا کښې مونږ ته څومره وخت ميلاؤ شوے دے؟ په دې تَعَلُّق سره امام غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مختلف روايتونه ذِکر کوي، بيا فرمائي: زما پير صاحب به فرمائيل: **دُنيا د دريو ساه ګانو ده**، يوه ساه کومه چې تاسو اخستې ده، په هغې کښې چې کوم عمل کول وو هغه مو کړو، دويمه ساه هغه ده چې کومه چې تاسو اوس اخلئ او دريمه ساه هغه ده کومه چې اوس راتلونکې ده، د هغې تاسو ته څه پته نشته، پته نه لګي چې بله ساه به هم واخلئ اوکه د هغې نه مخکښې به مو مرګ ګير کړي. بس ستاسو سره يوه ساه ده، په دې کښې چې څه کولے شئ اوکړئ ئې![1]

يو اسلامي ورور دا خبره کوي چې يوه ورځ ما په خپلو سترګو د ژوند حقيقت اوليدلو، زما يو دوست وو، هغه زما سره د ميلاويدو د پاره زما دفتر ته راغے، ما چائے را اوغوښتلو، چائے په ميز پروت وو او هغه زما سره خبرې کولې، ناڅاپه پته نه لګي چې څه اوشول، زما مخې ته ناست، خبرې کوونکے زما دوست په يو څو سيکنډه کښې مړ شو، آه! د هغه چائے څښل هم نصيب نه شول.

آگاہ اپنی موت سے کوئی بشر نہیں　　　سامان سو برس کا ہے پل کی خبر نہیں



[1]...منهاج العابدين، صفحه:160159بتغير۔

## مرګ نزدې اوګڼړئ!

اے عاشقانِ رَسُول! دا ژوند دے، پته نه لګي چې مونږه به بله ساه واخلو او که نه، ځکه د اوږدو اُمیدونو نه ځان ساتئ، مرګ هر وخت ځان ته نزدې ګڼړئ! د دې په برکت به د دُنیا محبت کم شي، په حِرص او لالچ کښې به کمے راشي، د ګناهونو نه به زړه تور شي، د زر توبه کولو ذهن به جوړ شي او د دې په برکت بهاِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیم! د زړه تور والے وینځلے شي او زړه به مو صفا ستهرا پړقیدونکے شي.

د اُمُّ الْمُؤْمِنِیْن حضرت عائشه صِدِّیقه طَیِّبَه طاهِره رَضِیَ اللہُ عَنْہَا په خدمت کښې یوه زنانه حاضره شوه او د زړه د سخت والي شکایت ئې اوکړو، حضرت عائشه صدیقه رَضِیَ اللہُ عَنْہَا اوفرمائیل: مرګ یادوه! زړه به دې پاک شي. هغه زنانه لاړله او یو څو ورځې پس بیا راغله او د حضرت عائشه صدیقه رَضِیَ اللہُ عَنْہَا شکریه ئې اداکړه او اوئې وئیل چې اوس د زړه د سخت والي نه روغه شوې یم.[1]

کاش! چې مونږه هم خپل دا ذهن جوړ کړو، مرګ یادوو، که کیدے شي نو مقبرې ته حاضِر شو، د قبرونو لیدلو سره غور و فِکر اوکړو، دا سوچ اوکړو چې یوه ورځ به زه هم مړ کیږم او د قبر کندې ته به کوزیږم، آه! په

323

[1]...موسوعة امام ابن ابي الدنيا، باب ما يعين ذكر الموت، جلد:5، صفحه:442، حديث:156۔

قبر کښې به تکه توره تیاره وي، د خاورو تولاڼي او د خختو بالښت به وي، آه! د قیامت د ورځې پورې به دلته پاتې کیدل وي. داسې د قبرونو په باره کښې غور و فِکر کوئ، مرګ بیا بیا یادوئ نو اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيمِ! زړه به مو پاک شي، د ګناهونو تور والے به وینځلے شي.

## (2) حَسَد

د زړه د تور والي دویم غټ سبب حَسَد دے. د خپل مسلمان ورور نه د نعمت اخستلو آرزو کولو ته حَسَد وائي. دا ډیره غټه باطني بیماري ده، الله پاک په قرآنِ کریم کښې د حَسَد کوونکي نه د پناه غوښتلو حکم کړے دے، ارشاد دے:

وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ ﴿۵﴾ [مفهوم]ترجمۂ کَنزُالایمان: او د حَسَد والا د شر نه کله چې هغه زما نه سوزي. (پارہ:30،سورۂ فلق:5)

اَللّٰهُ اکبر! خورو او محترمو اسلامي وروڼړو! اندازه اولګوئ! حَسَد څومره غټه فتنه او څومره غټ شَر دے چې رَبِّ کائنات حَسَد کوونکے د شیطان سره میلاؤ کړو او حکم ئې اوکړو چې د دې ټولو نه پناه غواړئ! [1]

په حدیثِ پاک کښې دي: حَسَد نیکئ داسې خوري، لکه څنګه چې



[1]...منهاج العابدين، صفحه:163 بتغير قليل۔

www.dawateislami.net

اور اوچ لرګي سیزي.[1]

امام غزالي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: حَسَد په بے قرارئ او بے مقصده غم او فِکر کښې اخته کوي، د حَسَد په وجه انسان د ذِلَّت او محرومئ په لعنت کښې نښلي او د حَسَد يوه لويه تباه کاري دا ده چې **حَسَد زړه ړندوي، تر دې پورې چې د الله پاک د حکمونو اوريدو او په هغې د پوهيدو صلاحيت ختم شي.**[2] الله پاک فرمائي:

بِئۡسَمَا اشۡتَرَوۡا بِهٖۤ اَنۡفُسَهُمۡ اَنۡ يَّكۡفُرُوۡا بِمَاۤ اَنۡزَلَ اللّٰهُ بَغۡيًا اَنۡ يُّنَزِّلَ اللّٰهُ مِنۡ فَضۡلِهٖ عَلٰى مَنۡ يَّشَآءُ مِنۡ عِبَادِهٖ ۚ (پاره:1،سورۂ بقرۃ:90)

[مفهوم] ترجمۂ کَنْز العرفان: هغوئي د خپلو ځانونو څومره بده سودا اوکړه چې الله څه نازل کړل د هغې نه انکار کوي د دې حَسَد په وجه چې الله په خپل فضل سره په خپل کوم بنده اوغواړي وحي نازلوي.

په تفسير **صراطُ الجنان** کښې د دې آيت لاندې دي: د يهوديانو خواهش وو چې د ختمِ نبوت منصب په بني اسرائيلو کښې چاته ميلاؤ شي خو چې کله هغوئي دا اوليدل چې هغوئي د منصب نه محرومه شول او بني اسماعيل (يعني د اسماعيل عَلَيۡهِ السَّلَام اولاد) ته دا منصب ميلاؤ شو نو هغوئي د حسد په وجه د حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او په هغوئي د نازل شوي د الله پاک



[1]...ابن ماجه، کتاب الزہد، باب الحسد، صفحه:683، حديث:4210۔

[2]...منهاج العابدين، صفحه:164 بتغير قليل۔

www.dawateislami.net

کتاب قرآنِ کریم نه منکر شول. د دې نه معلومه شوه چې د منصب او مرتبې طلب د انسان په زړه کښې د حسد پیدا کولو یو سبب دے او دا هم معلومه شوه چې حسد یو داسې خبیث مرض دے کوم چې انسان کفر ته هم رسولے شي.[1] د حضرت ابو هریره رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روایت دے چې خوږ آقا مکي مدني مصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: د انسان په زړه کښې ایمان او حسد نشي جمع کیدے.[2]

ځکه چې کوم کَس د خپل زړه اِصلاح غواړي، هغه له پکار دي چې د حسد نه بچ شي، څه چې ورته الله پاک ورکړي دي، په هغې راضي اوسي، نورو ته چې کوم نعمتونه ورکړے شوي دي په هغې نظر نه ساتي، د لالچ او مال و دولت د محبت نه ځان بچ کوي او مرګ یادوي.

د حسد په باره کښې د نورو معلوماتو د پاره د مکتبةُ المَدینه "**حسد**" نومې رساله واخلئ او اوئې لولئ، تاسو دا رساله د دعوتِ اسلامي د ویب سائټ ***www.dawateislami.net*** نه مفت ډاؤن لوډ کولے هم شئ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د حسد د آفت نه به خلاصے بیاموئ او زړه به مو پاک شي.



[1] ...تفسیر صراط الجنان، پاره:1، سورۂ بقره، تحت الآیة:90، جلد:1، صفحه:183۔

[2] ...سنن نسائی، کتاب الجهاد، صفحه:505، حدیث:3106۔

www.dawateislami.net

## (3): تادي کول

د زړه د سختئ او د دې په اصلاح کښې د ناکامي دريم لوئے سبب: **تادي کول** دي يعني هر يو کار بغير د سوچ او پوهې، بغير د غور و فکر نه کول.

تادي په 2 قسمه د زړه په خرابولو او اصلاح کښې د ناکامئ سبب جوړيږي: **(1)** يوه داسې چې د زړه د اصلاح د پاره وخت پکار دے، که چرې د يو ولئ کامِل د عنايت نظر نصيب شي نو بيا په يو نظر کښې زړه پاک او صفا کيږي، ګني بيا د دې د پاره سخت محنت کول وي، د نيکو اعمالو سره په مزه مزه زړه پاك کيږي بلکه که زړه د ګناهونو په تور والي کښې نښتے وي نو يوه اوګږده موده خو د نيکو په عادت جوړولو کښې لګي، بيا چرته د زړه تور والے لرې کيدل شروع شي خو تادي کوونکے انسان دومره صبر نشي کولے، هغه درې څلور ورځې کوشش اوکړي، په ظاهره فائده اونه ويني نو هِمَّت اوبيلـي، داسې د هغه د پاره د زړه اِصلاح ډيره ګرانه شي. ځکه چې که چرې د زړه اصلاح غواړئ نو ضروري ده چې انسان تادي پريږدي او د زړه د صفائې د پاره نيکـي کول شروع کړي، کوشش کوي. زمونږ آقا و مولٰـی، مکـي مدني مصطفٰـی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: زمونږه دا دين ډير مضبوط دے ځکه په نرمئ سره په دې کښې وړاندې ځئ ځکه چې کرونده کوونکے خو نه زمکه پوره راکښني او نه

د دې بره حصه د مخکښې په شان پرېږدي.[1] **(2)** د تادئ په وجه د زړه د سخت والي دويمه وجه دا ده چې د زړه د اصلاح د پاره وَرَع (يعني پرهيزګاري مثلاً د ګناهونو نه بچ کيدل) ډير ضروري دي او د پرهيزګارئ اصل دا دے چې بنده هر کار په قلاره، په غور و فِکر سره اوکړي، چې کله انسان د صبر و تَحَمُّل او غور و فکر په ځائے د تادئ نه کار اخلي، غور و فِکر نه کوي نو د ده په ګناهونو کښې د اخته کيدو ډيره انديښنه ده، مثلاً که چرې هغه د بے سوچه خبرو کولو عادت جوړ کړو نو په دروغو، غيبت، چغلئ وغيره ګناهونو کښې اخته کيدے شي، که چرې بغير د سوچ نه د خوراک عادت لري نو په حرامو خوړلو کښې اخته کيدے شي، داسې د تادئ کوونکي د ګناهونو نه بچ کيدل ډير ګران دي او که چرې د ګناهونو نه بچ نه شو نو د زړه اصلاح به ئې څنګه کيږي؟ بلکه د ګناهونو نور تور والے ئې په زړه خوريدے شي.

ځکه د زړه د اِصلاح د پاره ضروري ده چې بنده د تادئ نه ځان بچ کړي، زغمل او صبر کولو عادت دې جوړ کړي، هر کار دې په غور و فِکر سره، په صبر او برداشت کولو سره اوکړي. د دې يوه بهترينه طريقه دا هم ده چې د هر جائز کار کولو نه مخکښې يو څو سکينډه صبر اوکړي او د ښه



[1]...الزہد لابن المبارک، صفحه:415، حديث:1178۔

ښه نيتونو کولو عادت دې جوړ کړي، د دې په برکت به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ثواب به زيات شي، په هر نيک او جائز کار کښې چې د الله پاک د رِضا نِيَّت شامل شي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! زړه به ډير زر پاک شي.

## (4) تکبُّر

د زړه د سخت والي څلورم غټ سبب دے: **تکبُّر** دے. ځان د نورو نه د بهتر ګنړلو نوم تکبر دے. دا خو ډيره د تباه او برباد کولو والا د زړه بيماري ده، الله دې نکړي چې که چرې تکبر پوخ شي او غالِب شي نو د دې نه خلاصے موندل ډير ګران شي بلکه بعضې وخت خو د تَکَبُّر په وجه په زړه مُهر اولګولے شي. الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

كَذٰلِكَ يَطْبَعُ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ ﴿۳۵﴾ (پاره:24،سورۂ مؤمن:35)

[مفهوم]ترجمۂ کَنزُالایمان: الله داسې مهر لګوي د تکبر کوونکي سرکشه په ټول زړه باندې.

معلومه شوه چې تکبر په زړه باندې د مُهر لګيدو سبب دے. ځکه ضروري ده چې بنده د تکبر نه هميشه ځان بچ ساتي، د عاجزئ نمونه جوړه شي، په حديثِ پاک کښې دي: مَنْ تَوَاضَعَ لِلّٰهِ رَفَعَهُ اللّٰهُ يعني څوک چې د الله پاک د پاره عاجزي کوي، الله پاک هغه ته اوچت والے عطا کوي.[1]

323

[1]...مسند بزار، جلد:3، صفحه:161، حديث:946۔

مٹادے اپنی ہستی کو اگر کچھ مرتبہ چاہے — کہ دانہ خاک میں مل کر گلِ گلزار ہوتا ہے

اے عاشقانِ رَسُول! د زړه د سخت والي دا 4 بنيادي وجې دي: **(1)** اوږده اُميدونه **(2)** حَسَد **(3)** تادي کول **(4)** او تکبر. مونږ له د دې څلور واړو نه بچ کيدل دي ❀ اوږده اُميدونه مه ساتئ بلکه مرګ هر وخت ياد لرئ، دا تَصَوُّر جوړول دي چې بس مرګ راتلونکے دے ❀ د حَسَد په اور کښې ځان مه سوزوئ، څه چې الله پاک عطا کړي دي، په هغې شکر ادا کولو سره اوسيدل پکار دي او هميشه د نورو خير غوښتل پکار دي، کله هم د چا د بدو سوچ نه دي کول پکار ❀ چرې هم د تادئ نه کار مه اخلئ، هر کار په غور و فِکر او آرام سره، په صبر سره د کولو عادت جوړ کړئ ❀ او د تکبر نه خو خامخا بچ اوسيدل دي ځکه چې د شيطان د زرګونو کالو عبادت د دې تکبر په وجه ضائع شو او هغه د هميشه د پاره نامراده پاتې شو. دا 4 کارونه چې اوکړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د زړه اصلاح به اوشي، زړه به صفا ستهرا او پاک شي.

## د زړه د اصلاح د پاره يو څو نورې نُسخې

د زړه د سختئ يو څو نوراسباب هم دي، مثلاً په احاديثو کښې راغلي دي چې د زياتو خبرو او زياتې خندا سره هم زړه مړ کيږي، ځکه

د زياتو خبرو نه ځان ساتئ، د زياتې خندا نه هم ځان ساتئ. ډيره د افسوس خبره ده چې زمونږ آقا و مولا مدني مصطفٰـی صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: **ډير مه خاندئ! ځکه چې زياته خندا زړه مړ(يعني سخت) کوي.**[1] خو دلته خلق خندل او خندول فن ګڼړي، په خندا، د خلقو په خندولو داد اخلي، نن سبا خو د انټرنيټ او سوشل ميډيا دور دے، خلق د خندا او د نورو د خندولو خبرو کولو سره، داسې فضول حرکتونه کوي او ويډيوګانې جوړوي او د *Tik Tok* [ټِک ټاک] وغيره په ذريعه د وائرل کولو سره ځان ډير غټ فنکار ګڼړي. الله پاک دې مونږ ته هدايت نصيب کړي. زياته خندا او زيات خندول ښه خبره نه ده.

دغه شان د ډير زيات خوراک کولو سره هم زړه سختيږي، د امام احمد بن حنبل رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه نه چا پوښتنه اوکړه: آيا داسې هم څوک شته چې په مړه خيټه خوراک کوي او د هغه زړه هم نرم وي؟ اوئې فرمائيل: ما نه دے ليدلے (يعني داسې نشي کيدے چې بنده په مړه خيټه خوراک اوکړي، او بيا هم د هغه زړه نرم پاتې شي).[2] او د زړه د سختئ د ټولو نه غټه وجه د ګناهونو زياتوالے دے، ځکه د ګناهونو نه هم هر وخت بچ کيدل پکار دي.

323

[1]...ابن ماجه، کتاب الزہد، باب الحزن والبکاء، صفحه:681، حديث:4193۔

[2]...ذم قسوة القلوب، صفحه:262۔

علمائے کرام فرمائي: چې د زړه د سختئ د ټولو نه زر اثر کوونکے علاج دا دے چې بنده د قرآنِ کريم تلاوت اوکړي. حضرت يحيٰي بن معاذ رازي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: د زړه د سختئ علاج په 5 خبرو کښې دے: **(1)** د غور و فِکر سره تلاوت کول **(2)** خيټه خالي ساتل **(3)** د شپې عبادت کول **(4)** د پيشمني په وخت د الله پاک په دربار کښې ژړل **(5)** او د نيکانو خلقو په صحبت کښې کښيناستل.[1]

## د زړه د سختئ 3 روحاني علاجونه

شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِيَه په خپل کتاب مَدَني پنج سُوره کښې ليکي:

**(1)** کوم کَس چې د هر لَمانځه نه پس 100 ځله يَا اللّٰهُ لولي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! د هغه باطِن به فراخه وي **(2)** څوک چې هره ورځ د سحر د لَمانځه نه پس په سينه لاس کيږدي او 70 ځله يَا فَتَّاحُ اولولي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! د هغه د زړه نه به زنګ او خيرے لرې کيږي **(3)** او څوک چې هره ورځ د ورځې کله هم 7 ځله يَا فَتَّاحُ لولي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! د هغه زړه به روښانه کيږي.

323

[1]... ذم قسوة القلوب، صفحه: 263۔

## يو ديني کار: د تفسير اوريدلو او نورو ته د اورولو حلقه

اے عاشقانِ رَسُول! د زړه د اصلاح کولو او د ګناهونو نه د بچ کيدو د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريک د دعوتِ اسلامي ديني ماحول وابسته شئ، د ذيلي حلقے په 12 ديني کارونو کښې پوره حِصّه واخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د زړه اصلاح به هم کيږي او د ګناهونو نه د بچ کيدو ذهن به هم جوړيږي.

د ذيلي حلقے په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: د تفسير اوريدو او نورو ته د اورولو حلقه.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! عاشقانِ رسول، مبلغينِ دعوتِ اسلامي په جُمات کښې د سحر د لمَانځه نه پس د تفسير اوريدو او نورو ته د اورولو حلقه لګوي، په دې کښې هره ورځ درے آيتونه مبارک د ترجمه او تفسير سره لوستلے اورولے شي، هره ورځ 3 آيتونه يعني هر کال 1095 آيتونه، يعني مونږه هره ورځ د 15 نه 20 منټو کوشش سره تقريباً په دوه نيمو، 3 کالو کښې پوره قرآنِ مجيد د اوريدو سره، زده کولے او ځان پوهه کولے شئ. تاسو هم په دې کار کښې ضرور حِصّه واخلئ او زړه د قرآن په نور روښانه کړئ! راځئ! د ترغيب د پاره يو مدني سپرلے اورو:

## ويزې ميلاؤ شوې

يو اسلامي وړور تقريباً د 14 کالو نه په بهر ملک کښې اوسيدو، يو ځل ورته په کارخانه کښې د کار کوونکو ضرورت پيښ شو. هغه د ويزو د پاره بيا بيا درخواستونه جمع کړه، خو ويزې ميلاؤ نه شوې. د ملازمانو د نشت والي په وجه هغه نقصان کولو. يو ځل ئې بيا درخواست جمع کړو، په دغه وخت د يو اسلامي وړور په مشوره باندې هغه د شجره قادِريه رَضويه عطاريه نه دُعائيه شعرونه په پابندئ سره لوستل شروع کړل. د دې په برکت سره د هغه هٰغه کار ډير په حيرانئ سره په يو څو ورځو کښې اوشو او هغه ته ويزې هم ميلاؤ شوې.

مُشکلیں حَل کر شہِ مُشکل کُشا کے واسطے　　　کر بلائیں رَد شہیدِ کربَلا کے واسطے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## "القرآن الكريم" ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! د دعوتِ اسلامي *I.T* ډيپارټمنټ له خوا يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے شوے دے، چې نوم ئې: ***Al Quran Al kareem*** (القرآن الكريم) دے. دا ايپلي کيشن په ***Android*** اور ***IOS*** (اينډرائډ او آئي او ايس) دواړه ډيوائسز کښې د ډاؤن لوډ کولو سره په آسانئ سره

استعمالیدے شي، په دې موبائل ایپلي کیشن کښې د ❁ د پوره قرآنِ پاک لوستلو ❁ او د مختلفو قاریانو په آوازونو کښې د قرآنِ پاک اوریدلو سهولت موجود دے ❁ دې سره سره یو خاص سورت یا آیت بُک مارک کیدے هم شي یعني بیا بیا لوستونکے سورت یا آیت د بُک مارک کیدو سره په آسانئ سره لوستلے شي.

دا ایپلي کیشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ، بخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغیب ورکړئ.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بیان په آخره کښې د سُنّت فضیلت او د ژوند د یو څو آدابو بیانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغوئي زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي.[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! جنّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد



[1]…مشکوٰة، کتابُ الْاِیمان، بابُ الْاِعْتِصَام، جلد:1، صفحه:55، حدیث:175۔

www.dawateislami.net

## د خبرو کولو سُنَّتونه او آداب

د **آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک** دے: که چې تاسو يو بنده اووينئ چې هغه ته د دُنيا نه بے رغبتي او د کمو خبرو کولو نعمت ورکړے شوے دے نو د هغه نزدې والے او صحبت اختيار کړئ ځکه چې هغه ته حِکمت ورکولے شي.[1]

اے عاشقانِ رَسُول! ❁ په مُسکا او فراخه تندي سره خبرې کوئ ❁ د مسلمانانو د زړه ګټلو په نِيَّت سره د وَړو سره د شفقت نه ډکې او د لويو سره ادب والا لهجه ساتئ، اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! ثواب به هم میلاويږي او واړه او غټ ټول به ستاسو عِزَّت کوي ❁ په زوره زوره خبرې کول سُنَّت نه دي ❁ د ښه ښه نِيَّتونو سره د ماشومانو سره هم تاسو د جناب والا خبرو کولو عادت جوړ کړئ، ستاسو اخلاق به هماِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! ښه وي او ماشومان به هم اداب زده کړي ❁ د خبرو کولو په وخت د پردې ځائے له لاس وروړل، د ګوتو په ذريعه د بدن نه خيرے لرې کول، د نورو په مخکښې بيا بيا پوزې له ګوتې وروړل يا په پوزه يا غوږ کښې ګوتې وهل، لاړې توکل ښه خبره نه ده، د دې نه نور کرکه کوي ❁ تر څو پورې چې بل کَس خبرې کوي، په اطمينان سره ئې اورئ، د هغه د خبرې کټ کولو سره

323

[1]...اِبْنِ ماجه، کتاب الزہد، صفحه:667، حديث:4101۔

خپله خبره شروع کول سُنَّت نه دي ❁ د خبرو کولو په وخت بلکه په هر حالت کښې په تق تق مه خاندئ ځکه چې سرکارِ مدینه، قرارِ قلب و سینه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چرې هم په تق تق نه دي خندلي ❁ د بد زبانئ او بے حیائې د خبرو نه هر وخت پرهیز کوئ، د کنزلو نه ځان ساتئ او یاد ساتئ چې یو مسلمان ته بغیر د شرعي اجازت نه کنزلې کول قطعي حرام دي او د بے حیائې په خبرو کوونکي جنَّت حرام دے. خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: **په هغه کَس جنَّت حرام دے څوک چې د فحش خبرو نه کار اخلي.** د فحش خبرې معنٰی ده: اَلتَّعْبِيْرُ عَنِ الْاُمُوْرِ الْمُسْتَقْبِحَةِ بِالْعِبَارَاتِ الصَّرِيْحَةِ یعني د شرمناکو چارو (مثلاً د ګنده او بدو معاملو) په صفا الفاظو کښې ذِکر کول.[1]

میری زباں تَر رہے ذِکْر و درود سے　　بے جاہنسوں کبھی نہ کروں گفتگو فُضُول[2]

د مختلفو سُنَّتونو او آدابو زده کولو د پاره د مَکْتَبَةُ الْمَدِیْنَه دوه کتابونه "بهارِشریعت" **جلد3 حصّه 16** او د شیخ طریقت، اَمیرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه 91 صفحو رساله **550 سُنَّتیں اور آداب** هدیةً واخلئ او اولولئ. د سُنَّتو د تربِیَّت یوه غوره ذریعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسول سره د سُنَّتو ډك سفر هم دے.

323

[1] ...550 سنتیں اور آداب، صفحه:34۔

[2] ...وسائِلِ بخشش، صفحه:243۔

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو سیکھنے سنتیں قافلے میں چلو
رب کے در پر جُھکیں، اِلتجائیں کریں باب رحمت کھلیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو د که اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او دوه دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شريف په پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1]

راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

323

1 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ
الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخکښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو: صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو:

323

1...القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧

2...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ
صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰہِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللہُ عَنْہُم حیران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [یعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی لَہٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو:

323

1...القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

2...الترغیب والترہیب، کتاب الذکر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حدیث:۳۰

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکۍ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکۍ ليکي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

323

1... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة... الخ، ١٠/٢٥٤، حديث: ١٧٣٠٥

2... تاريخ ابنِ عساكر، ١٩/١٥٥، حديث: ٤٤١٥